# په افغانستان کې د سیاسي او اداري فساد د قضیو په تړاو د افغان مدني ټولنې او د بشري حقونو د فعالانو یو پرانیستی لیک

افغانستان چې د خونړیزو جګړو او داخلي، سیمه ایز او نړیوال تضادونو په منځ کې دی د پراخ سیاسي او اداري فساد قرباني دی.

فساد په افغانستان کې د سیاسي نظام د ړنګیدو یو د مهمو عواملو څخه ګڼل کیږي او د خلکو او دولت تر منځ دا باور د بحران لامل شویدی. پراخې سرچینې چې د ۲۰۰۱ کال څخه تر ۲۰۲۱ کلونو په اوږدو کې د نړیوالې ټولنې لخوا د افغان اولس د ملاتړ تر نامه لاندې رالیږل شویوې د ځینو فاسدو سیاستوالو لخوا چور شوې چې معاصر افغانستان ته یې زیان واړوی او زموږ د خاورې د پرمختګ مخه یې ونیول.

فاسدو سیاستوالو د اخلاقي او انساني کوششونو سره اساسي او ابتدایي اصول تر پښو لاندې کړل تر څو زموږ د ټولنې د پرمختګ مخه ونیسي.

دوی حتی ماشومان، ښځې او بډاګان چې په فقر کې یې ژوند کاوې هم مهرباني ورباندې ونکړه، دوی بیځایه سوې او بیوزله ډلې له پامه غورځولې او د هغو شهیدانو کورنیو ته یې هم درناوی ندی ورکړی چې د نظام د ساتنې په موخه قرباني شویدي.

په دې وروستیو کې یو شمیر نړیوالو بنسټونو او رسنیو په افغانستان کې د یو شمیر فاسدې سیاسي څیرې افشا کړې د هغوی د سرچینو او د پانګونې ځایونه د مدني ټولنې او د بشري حقونو د فعالانو لخوا خپاره شویدي پداسې حال کې چې په افغانستان کې د مفسدونو کسانو د محاکمې او څیړونو د خپریدو هر کلې کوي.

ددې پرانیستې لیک څخه دا لاندې ټکې راپورته کوي:

**لومړی**، اداري فساد د بشري حقونو د سر غړونو یو له مهمو عواملو څخه دی، هغه منابع چې د مفسدینو لخوا غصب شوې زیاتره یې د افغانستان په مستحقو خلکو پورې اړه لري، له همدې امله مفسدینو د افغانانو اساسي حقونه تر پښو لاندې کړي دي، له بلې خوا د فساد یوه لویه ډله د لوړ پوړو دولتي چارواکو څخه جوړه ده چې د سیاسي واک او دولت په نوم چې باید ټولنیز خدمتونه یې وړاندې کړیوای، دغې سترې فاسدې ډلې په غلا او لوټماری لاس پورې کړې چې د د بشري حقونو څخه په ښکاره سر غړونه بلل کیږي.

موږ له نړیوالې ټولنې څخه غواړو چې په افغانستان کې د فساد دوسیې د بشري حقونو په څیړنو کې شاملې کړي او په دې برخه کې د بشري حقونو له محکمو څخه د ملاتړ او مرستې غوښتنې کوو.

**دوهم**، له فسادینو سره باید په انتخابي ډول چلند ونشي که څه هم د یو شمیر ادارو په څیړنو کې یو شمیر مفسد کسان افشا او معرفي شوي خو پدغه لیستونو کې د فساد مهمې څیرې نه لیدل کیږي دا پداسې حال کې ده چې د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې یو شمیر مشهورو مفسدونو کسانو پانګونه کړې او له قانوني تعقیب پرته په سوداګریزو او حتی سیاسي پروګرامونو بوخت دي.

پدې کسانو کې وزیران، د پارلمان وکیلان او په تیرو شلو کلونو کې نور مهم سیاسي لوبغاړي شامل دي. موږ په ښکاره توګه اعلان کوو چې له مفسدینو، شکمنو او مجرمینو سره انتخابي معامله په دې تحقیقاتو کې د خلکو د بې باورۍ لامل کیږي.

موږ له څیړنیزو بنسټونو غوښتې چې په افغانستان کې د مدني بنسټونو او د بشري حقونو له فعالانو سره مشورې وکړي.

**دریم**، د قانون د حاکمیت د پلي کولو لپاره نړیوال ګډون او ژمنې یو بیړنی اصل دی:

په هیواد کې دننه او بهر د افغانستان مدني ټولنې او د بشري ټولنې فعالان په دې باور دي چې تر څو چې د نړۍ حکومتونه په افغانستان کې د فساد د تورنو کسانو پر وړاندې د عدالت د تامین په برخه کې همکاري ونکړي د قانون حاکمیت ناشونی دی.

په افغانستان کی د یو مشروع حکومت نشتوالی ددی لامل شوی چی د نړیوالی ټولنی وغواړو چی د نړیوالو قوانینو له مخی د افغانستان د خلګو تر څنګ ودریږی او د مفسدینو په پیژندلو او محاکمه کښی له قانونی پلوه همکاری وکړی.

همدا رنګه موږ د ملګرو ملتونو څخه غواړو چی د فساد پر وړاندی د ملګرو ملتونو د کنوانسیون (UNCAC) سره سم په افغانستان کی د مفسدینو د پیژندلو لپاره اړین اقدامات وکړی.

**څلورم**، مجرمین باید خپل ټول امنیت په هغو هیوادونو کی ونه لټوی چی د افغانستان د خلګو دوستان وی.

په اداری فساد کی د تورنو کسانو ډیر شمیر په هغو هیوادونو کی میشت دی چی د افغانانو دوستان دی او په افغانستان کی دی خلګو د ژوند مالی قربانی ورکړیدی. دغه مفسدی ځیری د کډوالو په منلو هیوادونو کی لکه اروپایی اتحادیه، امریکا متحده ایالات، استرالیا او کانادا کی د سیاسی او ټولنیزو کډوالو په څیر ژوند کوی.

موږ له دغو دولتونو په کلکه غوښتنه کوو چی ددغو کسانو د شا لید په اړه قانونی څیړنی پیل کړی او مجرمینو ته اجازه ورنکړی چی د سیاسی کډوالو امتیزات تر لاسه کړی.

پناه غوښتل یو ارزښتناکه غوښتنه او مهمه پروسه ده او دا مهم حقوقی امتیازات باید فاسدو کسانو ته ورنکړل سی په همدی حال کی په زرګونو مستحق پناه غوښتونکی په نورو هیوادونو کی سرګردانه دی.

**پنځم**، د تخصصی محکمو تر وروستی پریکړو پوری باید ناپاکی پیسی کنګل شی. موژ له دولتونو څخه غوښتنه کوو چی د فساد شکمن کسان د بانکونو له لاری خپلی سرچینی مصرف کړی تر څو خپلی ناپاکی او توری پیسی وپیژنی او یو ځانګړی او بی پری څیرنی ته یی وسپاری.

موږ د متحده عربی اماراتو، سعودی عربستان، د ترکیی جمهوریت، د منځنی اسیا جمهوریتونه، د روسیی فدرالی جمهوریت، د پاکستان اسلامی جمهوریت، د ایران اسلامی جمهوریت او په ځانګړی توګه د هند د جمهوریت څخه غوښتنه کوو چی پدی برخه کی جدی پاملرنه وکړی.

د افغانستان د مدنی ټولنی او د بشری حقونو فعالان د نړی له بنسټونو او دولتونو سره په ژمنتیا او ماموریت کی ددغه پرانیستی لیک د تطبیق او تطبیق په برخه کی همکاری کوی او د شفافیت او حساب ورکونی لپاره هر ډول همغږی ته چمتو دی.

په افغانستان کی د عدالت، انصاف او شفافیت د تامین په هیله